# د څراغ درسره واخله



Ketabton.com

ومان نیازی

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

# دا ځراغ در سره واخله

ومان نیازی
۱۳۸۴ لمریز کال

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دکتاب نوم: دا خراغ درسره واخله
شاعر: ومان نیازی
ددوتني دلومړي مخ اودکتاب انځورونه:ومان
E –mail:oman1348@yahoo.com
د تيلفون شميره: 0799309818
خپرندوی: راغب خپرندويه ټولنه
کمپوزاوديزاين: فريد احمد
چاپ کال: ۱۳۸۴ د مرغومي دمياشتي ۲۶مه
چاپ ځای: ميوند مطبعه
چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library




CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## لیږه شاعري، خو ښه شاعري

ومان صاحب شاعر دی ، ځوان او با استعداده شاعر، د فکر او خیال خښتن ،د پراخ او په عین حال کې دد قیق نظر خاوند شاعر دی ، خود خپل ولس او خپلې سیمې نماینده شاعر،شعرونه یې خپل دي، یعني مضمون آفرین دی ، خپل مضمون پخپله طریقه نظموي ، خپل شعر ته له خپلې سیمې الهام اخلي ، دده په شعرونو کې دده د چاپیریال تصاویرونو هغه څه مو مخې ته ږدي چې ده په خپل ولس او ماحول کې لیدلي وي، په هغه ژبه راته ږغیږي چې ددوی خلک وربانديخبرې کوي .

د ومان صاحب د شعرونو په مانیو کې خپلې محیطي مسالې کار شوي دي ، ژبه یې خپله ، اصطلاحات یې خپل ، انګېرنې یې د خپل ولس، ږغیدا یې هم له خپلو خلکو . د خپل ولس کره وږۀ درته بیانوي، هغه هم په هغه اندازه چې ددوی خلک یې خوښوي.

ومان صاحب یو فطري هنر مند دی، برسیره پر شاعري رسام ، کاریکاتوریست او لیکوال هم دی، لکه څرنګه چې یې د شعرونو مواد له خپلې سیمې اخیستې دي په انځور ګرۍ کې هم د وطن له پلالو پرورو کار اخلي.

د ومان صاحب په دغه مجموعه کې غزلې ، قطعې او فردونه هم شته ، خو ډېره برخه یې نظمونه دي ، دی د نظمونو شاعر دی او دا نظمونه تر ډېره حده دده د خپل سبک ښکارندوی دي، د هر نظم عمومي خیال او محیطي رنګ ، سیمه ایز لغتونه او اصطلاحات او دغه شان د سیمه والو دود ، دستور ، زیست ، ژواک او نورې ځانګړنې یې په واز کومې نارې وهې چې دا شعرونه د یوۀ شلګرې شاعر له طبعې را تو کیدلي دي . لکه څرنګه چې شلګرۍ موسیقي د ځانته سور او تال له مخې یو بیل سبک پېژندل شوی دی ، دغه شان امید لرم چې د خپلو ځانګرتیاوو په وجه به یوه ورځ د ومان صاحب شاعري هم په شلګرې سبک و نومول شي.ومان صاحب لکه د فلم اخیستلو کامره تصویرونه او غږونه درست

ketabton.com - The Digital Library



په دقت ثبتوي ، په دقت ثبت شوي فلمونه د اانسر له معرفي کولو پرته په خپله خپل ځای او موقعیت در پیژني.

د مثال په توګه د ((خوب)) تر عنوان لاندې په نظم کې وګورئ: په کړس ،کړس خندا ، د کوترو کټېدل ، خونډوره په مریو پټه دوه مخې آینه ، واګې ورل ، خوب ګودر ته تېرول، د وینو ژی ، خوب ته دململ غوټه اچول، هډ یري ته د میني جومات وال خبرول.

د ((شډل اشنا)) په نظم کې : نوین شرمبی ( تازه شرومبی) ابی کټوه په ځای کړي چېرې( کټوه بې چېرې پټه ساتلې) د ګاړې ساتل، د توت سیوري ته خوب رسول، د مابنام چلم ، او بیا پېښې په ځان پسې ځکول ... دا ټول ولسي اصطلاحات دي او د هغه ولس کلتور را ښيي.

په دغه نظم کې دا بیتونه هم لولو:

که دي ذکات څه د سندرو باسي
نو مازدیګر به یوځۀ لوړ وخیژو
یوه غرنۍ به بنۀ په شرنګ ووایو
سر کال مو غر و طنه ډېر سپېره دی
پرېږده چې غره کې ازانګې را شنې شي...

د سندرو ذکات ایستل او یوه غرنۍ په شرنګ ویل او ملګري ته له مینې د وطنه خطاب کول شاعرانه جملې دي ، خو داچې د وچ کالی له امله په خپل سپیره غرۀ د غرنۍ سندرې د ازانګې د شنې کېدلو په تمه شیندل غواړي ، دا نو د شعر روح دی.

دغه شان شاعرانه خبرې ډېرې لري، مثلاً د خپل جنون علامې په څۀ بنۀ توګه در ښيي:

ګوره نور پاک په لېونتوب یمه ګډ
ګمان کوم چې راته غرونه غاپي
د شپې په مخه له سرویږدو سره
راته د خپل ماشوم لاسونه غاپي

ketabton.com - The Digital Library



غر چې د وقار ، سکون او سکوت سمبول دی او تر خپل ماشوم چاته نږدې بل هیڅوک هم نه ښکارېږي چې ګمان کوي هغه هم ورته غاړي، نور به په څه شي او په چا پورې زړهٔ وتړي؟

د ((نظررمه))یې د یوه بل خوندور نظم عنوان دی ، د سړي ستر ګوته یو کلیوال سړی ودروي چې بل چاته کوم ځای په ګوته ورښيي، نور يې پخپله ولولئ:

د نظر رمه

دا زما ګوتې ته ګوره

ها چینه در معلومېږي

ها د دوو غونډیو منځ کې

شین نری پیوند يې وینې

سپین ګړونګ در معلومېږي

کټوری يې د سپوږمی چې

پاس په سر باندې نیولی

تاته وایم! خیر شه ،ګوره

دغه لاندې مېنې وینې

چې تر کوچو دي لا سپینې

دغو مېنو ته وربار دي

تورې کډې د لونګو

دنظررمه مې زه هم

کله،کله پیایم هلته

اوس به را وګرځو د شاعر غزلو ته :

ومان صاحب په غزلو کې هم د خپلې سیمې شاعر دی ، دغه خصوصیات یې په غزل کې هم ساتلي دي، خو زهٔ به یې مضمون آفریني ته ستاسو پام راواړوم.

ومانه ! هغه دې یادېږي چې په درست کلي کښې

یواځې نه وو د جومات د منارې لاسونه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دی وايي پخوا چي غلو او متجاوزينو ته د لاس اوپښودغوځولوپه ځاى دبند سزا ورکوله کېده يوازي دجومات مناره بي لاسونووه، خواوس مناره تنها نه ده ډېر ځوانان بي لاس او پښو شوي دي.
دسپوږمۍ په شپه چي شاعرستوريو او سپوږمۍ ته ګوري،سپوږمۍ ورته چمبه(داريه) وهونکي ښکارېږي اوستوري سندر غاړي چي دماتو شنو بنګړو په ځېر سندري وايي. دمينې په خرخشوکي دماتو شويوبنګړوشرنګ تر هر ترنګ اوهر آهنګ په زړونو ښه لګيږي

سپوږمۍ چمبې ته لاس چي کړي په بره وايي ستوري
دماتو شنو بنګړو په ځېر سندره وايي ستوري

دا ځو بيتونه به يې نور هم سره ولولو:

زړه ته لمبه دحسن نه يادوم په خوار تنا که په پلمه راخيژي
ولې نګاه يې سمندر ته دزړهٔ لکه مست قو چي په څپه راخيژي
په جو هر تبه دزيري ګډه ده نن دي تصوير په آينه راخيژي

ملا وايي بيګاه يې بيا زموږ په ګناه نيسي
لاس دي پورته کړه وطنه دي سپوږمۍ ته دعا وکړه

د غزني خلک له ميني يار اشنا ته دوطن خطا ب کوي،دا ورښيي چي دوطن غونډي راباندي ګران يې.

زما له قبره به بانه توکيږي ملالوسترګو ته مي ډېر کتلي
دا اوښ چي هرځاى وينم بدمې ايسي زما ديار کډه خو ده وړي ده

ومان صاحب ډېر ښه شعرونه لري د(خمزوري)،(زيارت)،(وچکالي) نظمونه يې ډېر کامياب نظمونه دي لېږ شعروايي خو ښه يې وايي ښه يې غوارم.

په درناوي

محمدصديق ((پسرلی))

ketabton.com - The Digital Library



# ومان چې له ماشومتوبه سره لوبې راواخلې

هغه مهال چې میدان مشاعرو ته چغالې و((نیازی)) په کرپیدلې بایسکل یوې مشاعرې ته راغی . ساه یې په اوږو اچوله چې څنګه په شکېدلې څوکی کښېنوست په بریتوکې یې وخندل، هغه ده تازه پر خان تخلص ((ومان)) ایښی و. له یوې، بلې خوا پوښتنې پیل شوې،له دې منځه شاعرانه خیال وزرې وکړې دښاپیری‌له البومه یې دګل پرپاڼوانځورونه راوړل، په یوه انځورکې تاندې ښاپېری دګل په نازک بدن خپلې نازکې ګونډې وهلې وې تازه یې دخپل مین په یاد لوړه پوزه سوری کړې وه اودومان له بوتې یې نری خاشه ترې ایستلې وه ،تنکی پرهار یې پرې رغاوه،په بل انځورکې یې دومان نری خاشې ترغوږونو ایستلې ،دومان له شېرې دکه پیاله په لاس دسنځلې ترونې لاندې دجانان لارې څارې

مازدیګری د اروابناد((رشاد))صاحب پوښتنې ته ولاړو هغه په همیشنی نرمه خندا وویل:((ومانه!دېرعجیبه شې ته دې پام شوی دی له دې بوټې به پخوانو شا هانو شېره ایستله او ځانونه به یې پرې نشه کول)).رشاد صاحب په خپلو شمېرلو خبرو زیاته کړه:((دغه بوټی ګل دشپې په مخه غوړوي دسوما په نامه یادیده بیا به ځوانان دشپې لو ته وتل څکه یوې پښتنې پېغلې دا لنډۍ ویلې وه:

سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه یار مې دګلو لو کوي ګوتې رېبینه

له همدغې لنډۍ‌یوه ختیځ پوه عالم دپښتنې ادب تاریخي دوره، تر میلاد څو سوه کا له پخوا ثابته کړې ده))

اوس به راشو ومان ته، هغه وخت چې د ملنګ ومان په خیا ل کې دزیارت کوترې والوزې اوبیادفکر مست آس پر مېږوې راوڅغلوې، هله نو دخوند اورنګ بازار لکه دشرابو نشه ورو،ورو مستې اخلې .

ketabton.com - The Digital Library



تاسو به ومان نه وي ليدلی، لکه څومره چې نازک خياله دی. دغومره نازک طبيعته هم دی. سپينکی ورته غر شي، غر ورته پېروتې.ومان عجيبه خويونه لري . په ډېر وخت کې يوواردزړه له تاره ترنګ پورته کوي، هغه ترنګ لکه دګلو په ښېره کې شات لکه په سپيدو کې رڼا لکه په ورمه کې خوشبويي لکه دبلبل په ترنم کې رازاوکله،کله خوداسې خوند وکړي لکه دلومړۍ شپې ناوې چې له شرمه ډکې سرې سترګې رنې کړي.

ومان په هرڅه کې خوند لټوي، په تېره چې له خپل ماشومتوبه سره لوبې راواخلي .دکليوالي ژوند انځورونه يې په شاعري پسې داسې نښتي وي هادکټوازيانوپه اصطلاح لکه تنکی کراڅی چې دمورله تي خوله نه کاږي.

دهغې ليکنې هيڅ پلوي نه يم چې دشاعر له ټولې شاعرۍ څو بيتبه راواخلي اوښې وروتړي، نوکوم ځای به دي خوږ شي.داسې يې وشاربي لکه غرکه ،دشاعر له ټولې شاعرۍ زړه در تور کړي، يا دومره سپينکی وروکاروي چې شل کاله وروسته هم دهغه شاعر ورته خيا ل نه وي

نوراڅي که مې خبره پر ځای وي دومان شاعر ي په خپله وګورئ اوله خونده يې خوند، له بې خونده ځايه يې پند واخلئ

اوس همدومره

په ډېر ادب

ښادمن

۱۳۸۴-۳-۲۶

ketabton.com - The Digital Library



## د سریزې پر ځای

تېر کال یوه ورځ راغب صاحب دتیلفون په لیکه راته وویل :سریه؛ په شعرونو دې لاس راتېروه،مالي درب اولګښت ته یې زه ولاړ یم خو ما چې تر خپلو توشپلو شعرونو کرښه راتاووله دکال په لکۍ ودرېدم.سر مې وخت ناوخته خوې لګولې ،هغه چې راته د خوند، رنګ ، موسم اوهوا له اړخه دیو آس غوړونه ښکاره شول، ګېډۍ مې،ښاغلي غضنفرصاحب ته وسپارل. درانه استاد((پسرلي))صاحب،ښاغلي علم ګل ((سحر)) اوډاکترصاحب بازمحمد((ښادمن)) په خپلو لیکنو درنه کړه.دجادوګر نثر کیسه لیکوال محمدایاز((ترنګ)) دکمپیوتر تنې پرې وشرنګولې،کتابي رنګ یې وروباښه . زه دټولو دلورپینواو ملاتړ، پوروړی اومننـدوی یم، الله تعالی دې ټول په عزت لري اودراغب صاحب په کوټه دې ،لا برکت وي.

په درنښت

ومان

۱-۹-۱۳۸۴

ketabton.com - The Digital Library



## د نظر رمه

دا زما ګوتې ته ګوره
ها چینه در معلومېږي
ها د دوو غونډیو منځ کې
شین نرۍ پیوند یې وینې
سپین ګړونګ در معلومېږي
کټورې یې د سپوږمۍ چې
پاس په سر باندې نیولې
تاته وایم! څیر شه ،ګوره
دغه لاندې مېښې وینې
چې تر کوچو دې لا سپینې
دغو مېښو ته وربار دی
تورې کډې د لونګو
دنظررمه مې زه هم
کله،کله پیایم هلته



ketabton.com - The Digital Library



## وزره

گومان مې نشي چې دا کو تره — رانه بیاروغه، وزره یوسي
زړه به مې دومره،لمرته نژدې کړم — چې دتا سترګې دلبره یوسي
زنه ،مې نیسم په دې دسترګو — که مې په اوبنکو خبره یو سي
که په یارانو وېر هم شو پېتی — زما جنازه دې سندره یو سي
یوه په زړه باندې جینۍ را ګوره — چې زړه له مانه په نره یو سي



ketabton.com - The Digital Library



## شډل اشنا

شډل اشنا بنه شو چې راغلې په خبر
د مېړو پوڅه مې ساتلې درته
شينکي بادرنګ مې دي له خپل پالېزه
هغه غرکه له شړومبو ډکه ده
((نوين))شړومبې به ترې بنه ډېر و څښو
ابې کتوه په ځای کړې چېړې
ها د جوال شا به څه ولټوو
ماته ابې هره ورځ ((ګاړه))ساتي
هغه نن ته وځته
د غرمې خوب به راځه
د هغه توت سيوري ته ورسوو
که دې ذکات څه د سندرو باسې
نو مازديګر به يوځه لوړ و خېژو
يوه غرنۍ به بنه په شرنګ ووايو
سږ کال مو غروطنه اډېر سپېره دی
پرې چې په غره کې ازانګې راشنې شي
هسې اشنا د چا راپام خو نه دی
دې ګريوانو ته به غبرګ لاس واچوو
د زړه خواله به سره وکړو راځه
چې د ماښام چلم مو وڅکول
بيا به پښې را پسې و کښوو
تا به له سپونه څه په څنګ تېر کړم
زموږ کېږدۍ نه به پېلوځې واخلې
ماته يوه لنډه نرۍ لار معلومه
چې ستا سو کلي ته ځي



ketabton.com - The Digital Library



## وچکالي

تکی تکی مې په یاد یې نور مې هېر یې
ته خو زما د ماشومتوب د خوب په څېر یې

د تا ترهې مې د ذهن د کبلیو
جوړې،جوړې دي د ستورو له غمیو

د شنو زانو په کتار پورې پېیلې
په سیار ښکلوکې هار پورې پېیلې

لکه ښکلي ماشومان للو ،للو دي
ستا د مخ د سیارې خالونه څودي

په اد شعر شابیتونو کې را تولې
په څپو په سیلابونو کې را تولې

شو بیني تسې مې وشلولې نوري
لکه توچې شي د شپې په لمن ستوري

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



نــوراني لاس مــې د زړه پــه درځــه کېــږده
تــوتکی ســترګې دې غبرګــې پکــې پرېــږده

د پــــاولیو لـــــه شـــــرنګي ســـــره راووزه
لـــه هغـــه مهـــین منګـــي ســـره راووزه

د حســـنونو د کـــاختې لـــه زوره نـــه یـــو
مـــرو د داســـې نهیلـــی لـــه زوره نـــه یـــو

زمـــوږ د کلـــي هـــا ســـپېڅلي منجـــوري
بغـــدادي کـــوترې تـــولې مـــروري

طوافونـــو د ممـــانو تـــه رانغلـــې
برجـــورو کـــلا ګـــانو تـــه رانغلـــې

هـا چې تـا بـه ویـل څـه ښـکلې باغچـه ده
همهغـــه مـــو اوس د کلـــي هـــدیره ده

لـــه مردکـــو توغنـــدیو یـــې زړه شـــین دی
غـــر مـــو ژاړي خلـــک هســـې وایـــې ســـین دی

نـــوره زمـــا لـــه طبعـــې ووتـــه خبـــره
لکـــه زمـــا د مالـــت خـــره درویزګـــره

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ددوعـا لپـې مـې پړمخـې پرتـې دي
دخيريـو مـو تـر پايـه تتـې پـرې دي

پـه قيـام او پـه سـجود مـو وابښـه شـنه کـړو
استسـقا لمنځونـه ام ډېـر وريسـې وکـړو

د امـين نيلـى بـه کلـه رانـه زيـن شـي
د کوکنـارو فصـل خـدايزده کـه را شـين شـي

وچکـالي ده پـه غـاټولو مـې زړه رېـږدي
سـړ هوسـی مگـر پـه دوی پـورې پـی پرېـږدي



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# څراغ

دا څراغ درسره واخله
پورته تېر شه پورته کښېنه
پورته سر دی د خبرو
پورته تاخ اودربچه ده
ترمنځ ستنې د ډبرو
دربچه به کړې را خلاصه
سرته څاله د کوترو
لاندې تک سپین کټوری دی
د کړو وړو مرمرو
ما کرلي کټوري کې
خپل لاسونه په سندرو
نه کاږه دي نه اوږده دي
د اميل غوندې را شنه دي
د اميل منځ کې تاويز دی
په تاويز کې مې ليمه دي
په ليمو مې گوتې کېږده
څه ايساره ساه ورپرېږده
په ليمو پورې مې زړه دی
پاک په تاپسې اوبه دی




CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## نرۍ لار

خرې مرغۍ چا ویل مینې دې د مار په سترګو
موږه هم دار ته غاړه ایښې ده د یار په سترګو

په طبیبانو مې د سترګو علاج و نشو چې
ترسره خولۍ مې ستن ایستلې، ورمه تار په سترګو

واړه وچ مورې، وطن تنګ، حالات موخه پوښتې نور
د غریبۍ ژوند مو را خوړند دی، د ښار په سترګو

یواځې ته نه وې چې زما په مرګ دې هیڅ نه ژړل
سپوږمۍ هم سره لاسونه ایښي وو کرار په سترګو

ګور، هم وران نکړ ستا تصویر زما په کسو کې خو
آخر میږیانو کړه را جوړه نرۍ لار په سترګو

((ومان))اشنا د شاعرۍ خونده دې نشته پیره !
خامک دسمال دې چا را تیر نه کړ یو وار په سترګو

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## زيارت

اسمان په تنده پوري اور ګرځوي
سيند په يوه تاکۍ اوبو پسې مړ
د غره کلوښتې ځنې ورژېدې
د شنو ګومبزو د کوترو خدايه
د زيارتونو دربچې،خو وينې
چې له کوترو نه کسات اخلې
باد ليونی بنګې دې بيا ځنبلې
له مينجورو نه خيرات اخلې
سينځله لغه په ميدان ولاړه
شنه تاويزونه يې په غاړه پراته
له هرې څانګې يې ده ساه ختلې
لغړګي سيوري يې له ديواله پراته
د خيړ ولې لاندې سره متکه کې
چې په چرسي کاکا شړومبې پلورلې
سړ يوه روې ، زړه سپی لنګه ده
چې د کونګريو يې حساب نشته
د باورونو ، عقيدو خالقه
قران وهلې زمانه کې اوسو
زښته حيا راته دربېږي له تا
تيندک خوړلې زمانه کې اوسو
جومات ته تور ليونی کولپ پروت دی
مينجور نه ورځي په مخه چاته
د زيارت شين بيرغ تکبير نلري

ketabton.com - The Digital Library



څپله خاني ور او څنځير نلري
هغه سپيڅلي سپين ساده ملنګان
اوس الاهو نه وايي پير نلري
زما په غاړه کې بندونه پراته
ټول ماشومان مې د زيارت په بند دي
چرسي کاګا وايي چې نور مه ورځه
دا خو زيارت نه وو بلا دي واخلم
دلته يوه لويه خزانه خښه وه
هغه يې وړې کنډواله پرې ښه ده
په کومه شپه چې پرې غلی پريوته
ما په هغه سبا سبکه ومونده
لمر ته عجيبه ځليده وطنه!
زرګر پرې داسې بيه نه ده ايښې
سر له کاختې نه مې سوکه وباسي
په تا دې خدای دا سر څپله وباسي



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# لمر

ستا دي خبره وي په ګل بدله
منمه دا چې دوی زیاتی کړی دی
ستا له خبرو یې ده ساه اخیستې
دوی د مارانو لاس نیوی کړی دی

سترګو ته لاس ونیسه ګوره ! ګوره!
چې مرغلرې درنه تویې نشي
نازک زړګي ته ګورم مه اچوه
چې په خاطر دې نورې پوهې نشي

منم چې ګرانه ګذاره ده دلې
راځه د سترګو دروازې وتړو
د زړه له خونې نه د لمر په مخه
ټولې نازکې دربچې وتړو

څه چې یو شکلی خوب په بیه واخلو
د ښاپیریو مریدان شو جینی
لوڅې پښې څپول ، څپول سرونه
په لیونتوب به ورتاوان شو جینی

CS CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



یا خو راځه د غونډو ستنې را کړه
چې احساساتو کې ګېنډي واچوم
د وطن نوم ستا د نامه تر تورو
دا غبرګ نومونه مې له خولې واچوم

ګوره نور پاك په لپوتوب یمه ګله
ګومان کوم چې راته غرونه غاړې
د شپې په مخه له سرو ږیړو سره
راته د خپل ماشوم لاسونه غاړې

درځه،درځه کاني په مخه کړو چې
په دغو غرونو کې ایمان تېر کړي
د تکو سپینو شنو کوترو په نوم
ګونډې چې دوی په ځان تاوان تېر کړي

مخ ته ، تندي ته ، په ترس ،ترس ځېږي
د خدای لپاره نوري مه اچوه
ماته قسم ګلې د خدای په نامه
په هر سپېڅلي توري مه اچوه

یوو زرګي ته یې لار ونه ایسته
ډېر مې له خپلې شاعري خپه یم
ځمه له دوئ ستورو ته زړه تشوم
زه د وطن له هر سړي خپه یم

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## لمر

ستا دي خبره وي په ګل بدله
منمه دا چې دوی زیاتی کړی دی
ستا له خبرو یې ده ساه اخیستې
دوی د مارانو لاس نیوی کړی دی

سترګو ته لاس ونیسه ګوره! ګوره!
چې مرغلرې درنه تویې نشي
نازک زړګي ته ګورم مه اچوه
چې په خاطر دې نورې پوهې نشي

منم چې ګرانه ګذاره ده دلې
راځه د سترګو دروازې وتړو
د زړه له خوني نه د لمر په مخه
تولې نازکې دریچې وتړو

څه چې يو ښکلی خوب په بیه واخلو
د ښاپیریو مریدان شو جینی
لوخې پښې څپول، څپول سرونه
په لیونتوب به ورتاوان شو جینی

ketabton.com - The Digital Library



یا خو راځه د غوندو ستنې را کره
چې احساساتو کې ګیندي واچوم
د وطن نوم ستا د نامه تر تورو
دا غبرګ نومونه مې له خولې واچوم

ګوره نور پاک په لپونتوب یمه ګډ
ګومان کوم چې راته غرونه غاپي
د شپې په مخه له سرو پېړدو سره
راته د خپل ماشوم لاسونه غاپي

درځه،درځه کاني په مخه کړو چې
په دغو غرونو کې ایمان تېر کړي
د تکو سپینو شنو کوترو په نوم
ګوندي چې دوی په ځان تاوان تېر کړي

مخ ته ، تندي ته ، په ترس ،ترس ځېبړي
د خدای لپاره نوري مه اچوه
ماته قسم ګلې د خدای په نامه
په هر سپېځلي توري مه اچوه

یوو زړګي ته یې لار ونه ایسته
ډېر مې له خپلې شاعري خپه یم
خمه له دوئ ستورو ته زړه تشوم
زه د وطن له هر سري خپه یم

CamScanner

سپوږمۍ را گوره یوه مظبوطه کلا
تر ستورو ټیټه تر غونډیو هسکه
چې عواطف ورسره روږدي کړمه
بس یو څو گامه تر هوسیو هسکه

دې پورې غرو ته څراغونه وړمه
په لوړو څوکو پورې پاس ږدمه
ټولې رڼا ته یې ایرغوی نیسم
څمه د لمر په اوږو لاس ږدمه

چې خپل آسان زما زین کړي نه وي
پردی عسکر پردی سپرڅه کوم
چې زما له قامه سره تویي نکړي
شریکې اوښکې هغه لمر څه کوم



ketabton.com - The Digital Library



## طلايي خوبونه

زما د تخيل پر طلايي لاسونو
تک سور د مينې شوپرک ناست دی
ډېره موده کېږي چې
په طلايي خوبونو
ويده دي زما لاسونه
پورته کولای نشم
زه په دعا لاسونه



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## لاسونه

ته خو رانغلې، له ما پاته شو، هورې لاسونه
پرون مې رانه وړو، تر خپلې، هدیرې لاسونه

بلا دې واخلم، زما تمه وه چې ته به راځې
په څادره کې به را نغاړې، زما پرې لاسونه

لوښي مې نشته، زه به لپو ماشومان اوبوم
سترګې دې ووزه زولنې که به مې خورې لاسونه

بېګاه مې ستورو ته کتل د ډېرو متې نه وې
بېګاه سپوږمۍ و سر ته ایښې څو خرې لاسونه

د مسافرو به و غرونه،وطنونه ترمنځ
زموږ تر منځ به وو ولاړ د پنجرې لاسونه

((ومانه))هغه دې یادېږې چې په درست کلي کې
یواځې نه و د جومات د منارې لاسونه



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## شنه زرغونه

زما همزولې ها دلوبومېره
هغه اوس ترې تمه نه راوزې
هاچې له ماسره به ګډه وته
له تورو غروبه مو مشکنې راوړل
چې به ورپيښې شو دچنچڼو په غار
لمن،لمن مو ترې اکونې راوړل
چې دکوترويې غمبرې زده وې
دتو لولوبويې سندرې زده وې
هغه اوس ترې تمه نه راوزې
زموږنژدې دی(انګړ يتار)هېرشي
د(ړانده چرګ)لوبه په منډه منډه
(اله دادځای په ځای) اوس چيغې نه شته
چې به باران ښه په شرنګې ورېده
موږبه (ارګوړې اوبرګوړې)ويل
دابه تيکی شوه په اړخوبه راتله
ګېډی ګېډی کميس بې خيشت په اوبو
دتوتکی په شان نازکه جينی
هغه اوس ترې تمه نه راوزی
زما به لېنده دوا سکټ په جيب کې
چې به جوره کله په ښکاروو تو

ketabton.com - The Digital Library



له خیرن موتی به یې ګاټی راکړ
ما به په چتکي باندې مور بوره کړه
دې به تکبیر په چیغو، چیغو وایه
په سروغرموکې به موخوب نه کاوه
دغومبسانوبه موخالي غوښتي
دکوم پالېزچې به ښتن ویده وو
دختکو به موپاک بیخ ویوست
چې دکوم فصل به غنم زیړ شو
موږ به الویو ته ترې ووږی راوړل
چې دهقانانو به کوم درمند اخسیت
په لپه لپه(( حق الله)) پسی به
موږ ډله، ډله څه په خوند ووتو
لمن ،لمن به موغنم راوړل
هغه، په ستورو وه مینه مني
سپني سپوږمی ته یې توپونه وهل
هغه اوس ترې تمه نه راوزي
هغه غرمه مې هم په یادده چې لا
دکلی دم راته په پخه چاړه
سر په سره دوبي باندې پاک وخرییه
خومره خپیرې یې په سرراکړې
خنګه به شنه شوه له خندا را پسې
له هرې خوامې خکه خواه شنه ده
دماشومتوب په دنیاګی پسې مرم
زمابغدادی سیپاره توله هیره
په شداومدپه زوراو زبر مې زده وه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



هاچي یاسین یې تول په یادوزده و
هغه په تولوکې چابکه جینۍ
هاچي به ماورته سبق تېراوه
هغه اوس تري تمه نه راوزي
هغه سکنی ماښام چي یوناڅاپه
په ګردله کي ژرغوني غوندي
سترګي یې دکې خره پره راغله
وې یې چې نوره مې بهرنه پرېږدي
ته دشینکي آسمان لمن څاره
که نری تال دبوټی جوړشوچېرته
یوواربه واوړمه ترشني زرغوني
تنکی زنکی به شمه ستاپه شاني
بیابه دی ښه په لوبوستړی کړمه
اوس داخلورغوړي بیلۍ واخله
پری یادوه مي کله ،کله آشنا
زمادهمزولو هغه تېریادونه
لکه دستړي مساپرخوبونه
چي نیم یې هېر، نیم یې په زړه وي سحر
په ستړي ذهن راوریږی داسې
•انګریتار، روند چرګ اواله داد ځای په ځای دماشومانولوبې
ارګوړي برګوري دماشومانو سندره چې باران ته یې وایي



ketabton.com - The Digital Library



## زلزله

شرنگ شو یو ناڅاپه دړې وړې مهین جام شو
شپه وځنگېده ، ځنگېده را سوری بام شو

و خرسېدو خرپ ، د شاتیر ملایې ماته شوه
و تمبېده خونه د هر تیر ملایې ماته شوه

توري پیشو هلته په کوترو ینه یخه کړه
اس و ششنبده ، ششنبده پرته یې مخه کړه

پړی یې را پرې کړ په چرگوړو کې غوا وخته
دبرگ تازي کوړنچی شوپه چوتره کې یې سا وخته

تندې پسې واخستم اوچت مې په سر واړاوه
لاس مې کړ، گړې ته سلامت مې په سرواړاوه

بوره مېږه ناسته په ماتم د خپلو وریو وه
توله کلا زوړ په سر اخیستې د زاریو وه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



څاله رانه ورکه هم د ځان هم د مرغیو وه
لمنه مې چې څنډ وهله ډکه له کوکیو وه

ووتې مستورې جينکۍ له ستره ووتې
چا نه وې ليدلې لکه پۍ له ستره ووتې

لوڅې پښې هر سړی ولاړ په استغفار وو
مخ مې شاته واړاوه پرته، روان مار وو

ما بلا خوړلي هلته هېره کليمه کړله
ته راغلې او تا راسره تېره کليمه کړله

غرونو نه راغلی په هواره کې ملنګ شوم
ربه ،ربه زلزلو نه دي په تنګ شوم



ketabton.com - The Digital Library



## کاروان صاحب ته !

### اوربه

غروانښته مې دوه ځادره
ملا اذان له غره راوړي
پيره دوه ځايه اور بل وو
ښې ګردې ګلالې روټې
خو شکرې هم مهين پاستي
ماشومان کلي را غواړي
چې شپدې شي برابري
زېره غوا ده بيګاه لنګه
دوه کټوه يې کنداتي
تکه سپينه يې سخوندره
په اوربو به دې را بولم
((د سندرو سمندره ))

## څرګندونې :

غروانښته :غرنی بوټی دی چې د سون لپاره کارېږي
کنداتي: تر لنګون وروسته د لنګې غوا اول لوغ تـه کـنداتي وايـي چـې همدا کنداتي له شپدو سره ګډوي او اوربه ترې جوړېږي

ketabton.com - The Digital Library



# د غره هوا

ناليـــــدلي او ليـــــدلي يــــو ځـــــو كســـــه
مـــا پـــه زړه بانـــدې منلـــي يـــو ځـــو كســـه

چـــې د غـــره هـــوا لـــه ځانـــه ســـره راوړي
خدايـــه راولـــې لـــه كلـــي يـــو ځـــو كســـه

هرمابنـــام پـــه دې غونـــډۍ كـــې اور بلېـــږي
هـــره شـــپه پكـــې ځـــوك ولـــي يـــو ځـــو كســـه

تـــه راځـــه د تنـــاره لمبـــې تـــه كښېـــنو
مـــا خـــو ســـتا پـــه ســـر وژلـــي يـــو ځـــو كســـه

دوى لـــوړلي وو اخـــر يـــې را نـــه يـــوړو
پـــه رڼـــا ورځ لاس تړلـــي يـــو ځـــو كســـه



ketabton.com - The Digital Library



## خمزوري

د خمزورو بوټي تول سوي دي
د صابرانو وطن اور اخيستی
سږ خو مو پوڅه هيڅ ونه څکله
پيرګله لاس جګوه دښتي وسوي
ميږي تنلی لنګې دي يې نه لري
وابنه له تندي نه تيګا وهي تول
پرې د باران کاختي ده
سږ د هوسيو په غولانځو پورې
ساه د وړو،وړو کبليو خېژي
رانګوه پيره درانه هډونه
غرونه موجل وهلي
د شنه ومان کاختي ده
سږ مو په غرونو پورې
پيره د ځلکنده پيزوان کاختي ده
سږ غنمرنګه شپنه خوب نه لري
مرګي ذکات ورنه د وريو وړی
د ((قره قل))خرمنه مه لټوئ
هغه د مور له نسه سپيو وړی



ketabton.com - The Digital Library



## د صابرانو وطن

لـه قسـمونو مـې اوس لاس اخيسـتی
پـه هغـه ورخ خـو عجيبـه ښـکارېدې
اوس بـه مـې زرځلـې لـوړلي و چـې
تـر عقيـدې هـم راتـه ښـه ښـکارېدې

له چمبو هغه څونډوره چمبه
چې ستا په ګوتو کې يې تال جوړوو
نجونې را تولې وې کوترو غوندې
تا د چوترې کونج ته پاريال جوړوو

بنګړي دې شرنګ له لاسه وغورځول
تا په صغيره جينۍ پال ونيو
څرنګه شنه وې له خندا ليونۍ
سپينې خولګۍ ته دې دسمال ونيو

يـاره!يـو ګـډوډ عبـادت لرمـه
پـه هـر رکـات کـې دې نـوم سـم يـادوم
چـې کلـه لـوړ مـه د څـه پـه خـاطر
نامـه دې اخلـم پـرې قسـم يـادوم

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دېره موده و شوه چې نه ښکارېږي
کافري زړه ته دې کلپان واچول
وایه ترڅو به بې ګرځوم راسره
تا خو مې غاړې ته اسمان واچول

ته د کوترو د غمبرو مېره
له سندریز شور سره تار لري
چا راته وې ورسره شپې رڼوې
په کور کې پټ مهین ستار لري

ګونګې سندرې مې د خدای تر سبا
راووزه تولې په بېیاد یوسه
که دې همزولو چېرې خوښې نه کړې
بیا یې له یوه سره په باد یوسه

سترګې دې جارشم عقیده دې جارشم
لکه ماشومه لوبه سر واخله
راځه را ووزه په ناچله سېکه
له دې شینکي اسمانه لمر واخله

زما همځولې ترانې لیونی
د سندریزې ادا ګرد نه لري
ستا له سندرو به ذکات یوسم
بلا وهلې چې هیڅ درد نه لري

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



د کوتې ته‌ر پورې مې پاس تړلې
د ستار تار ته مې دې غوټې پرتې
سپږ توتکیو پکې خاله ایښې
لمن،لمن دې پکې لوټې پرتې

هغه پرهر یم چې علاج نلرم
د طبیبانو په سره ستن کې اوسم
لمر مې یوه نیزه په سر ولاړ وي
د صابرانو په وطن کې اوسم



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## مینه

د مځکې مخ مې څه د پلار خو نه دی
ټول رواجونه،خو زموږه نه دي
مخ ته دې ولې دې څپېړې کښلې
ټول دېوالونه خو زموږه نه دي
چرسي کاکا دې هرڅه ،هرڅه وايي
دوی د مین سیورې په کاڼو ولي
خدا که خپله ځرمن و پېژني
وفات نامې اتڼ کې مه غروه
چتې تر خوله چاته ورتېره نه شي
چېرې مې نوم په خوله وانخلې جینې
موږ د سر زورو په وطن کې اوسو
دا سر تور سر او دا لمن ومنه
مامې د پلار او مور له ښې مه باسه
د مینې نوم چېرته له خولې مه باسه



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## غمی

په ډېر احتياط مې په درست عمر کې يو شی ساتلی
لـه هيلـو ډک زړه مې ، صـفا لکـه غمـی سـاتلی

پـه خاطر ناسته مرغکی بـه مې را شـنه شي پکې
ژونـدي ګـلاب تـه مې د لپو سپين کـودی ساتلی

د هغـه ښـار پـه دروازه تولـه شـپه نـور وريـده
څـو ملايکـو وو پـه غېږ کـې يـو سـری ساتلی

مظلومـه اخـدای دي زېرمـه وکـړه اوربـدلي مې دي
عادل سړي د کور په خوله کې روی سپی ساتلی

يـه هنـر پـالې ! پـالې ، پـالې نـوک نيـولې راځـه
مـا د پـاوليو شـور پـه زړه کـې لا ژونـدی سـاتلی

نور يې له سيوري تښتي خپل يې دي د وينو تږي
دوی ته حيران يم ، دوی عجيبـه سر خـوړی ساتلی



ketabton.com - The Digital Library



## خوب

اې په خوبو مینې
یوه خبر به راته سپینه کوې
غاړې دې بندې چې درواغ به وایې
پاس په بلې د کټ په سر چې د سپوږمۍ رڼا ته
د ناز په خوب ویده وې
څه مهین خوب دې لیده
چې په کړس کړس دې داسې
له شیش محل د شونډو
په خوب ویدې کوترې
د خندا وکتېدې
والوتې ولاړې په رڼو بامو وزرې وهې
اوس خو له سپینو، سپینو ستورو سره
د شنه اسمان په کنګرو باندې غومبرې وهې
ووایه!
کوم خیالګر تصور
کوم جنتي خیال ته
تا زر زرې، زرینه تاج منلی
هم دې د سپینې خولګۍ باج منلی
چاته دې ورکړه د لاس نښنه وایه
ها څونډوره په مریو پټه
هغه دوه مخې اینه په خوب کې
راځه شکونه مې تر لاس ونیسه

CS CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



زما د نبض نيلي دي واګې وړي
هلهارانخه،خوب دې ګودر ته تېر کړه
ياپې د ميني قلندر ته تېر کړه
زه دې ګونګی شم دامې څه وويل
زموږ د ګودر د اوبو رنګ سوردی
کلی دوېر اودوحشت تنوردی
زموږه لمر هم عجيبه راخېژي
د وينو ژی دی په غرمه را خېژي
هسې نه خوب نه به دې کرکه وکړي
له پېغلتوب نه به دې کرکه وکړي
دا ليوني خوبونه ولې وينې
داسې خوبونه خو تعبېر خوړلی
د مينې تورو سپين تفسير خوړلی
په سرو هندارو کې دانه ځايېږي
په مسلمان نظر يې کله لمانځې
په دې کفارو کې دانه ځايېږي
خوب ته دې غوټه د ململ واچوه
ورته شناخته په خامک جوړوه
زه به د مينې جومات وال خبر کړم
چې هديرې ته لاړشو



ketabton.com - The Digital Library



## زانې

خير دی ، خير دی ، خيردی دا کفارې مسلمانې کړه
مـا بانـدې يـې ډېـرې د خوبونـو نـه جانـانې کـړه

راغله ،راغله ، راغله تکه سپينه لا اومه خوله ده
جوړه له ګل پـانو يـې مهينه سره وره خوله ده
لوبو ته مې بولې دا له ستورو سره يوه خوله ده

زړه مې هواوکړه دوی په ما پسې رواني کړه
زما رنځورې سترګې خامخا بلا ګرداني کړه

اې د درنـو سترګو ، توتکيـو د ډيـوو خدايـه
اې د زيـارتونو بـاوروڼو عقيـدو خدايـه
اې تـه ترکـوکی هـم د نـازکو پربشتو خدايـه

جوړې راته جوړې د شنو ستورو کـلا ګـانې کـړه
مـاليونی ميـر کـړه جينکـی را پسـې زانـې کـړه

راغلـې خـو پـه غـاړه تاويزونـه روپـی نلـري
زنو پورې خال څه چې په تنـډو ټيکی نلري
طبعـه کـې ولاړې کميسـونه ، تهـی نـه لـري

ketabton.com - The Digital Library



ته یې په سندرو ربه ! داسې خرامانې کړه
بیا مې د زړګي غوښتنې شوخې شیطانانې کړه

خوب وینم چې دوی راشي پالونه په ما وګوري
پرانیزي ایرغوي پټ رازونه په ما و ګوري
سپین تر پیو سپین مهین لاسونه په ما وګوري

ربه دغه خوب مې د وریښمو ورې پانې کړه
دا ورې کوکی یې په څپو کې جاله وانې کړه




CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## رنګ

سپین رنګ یې په زړه و ډېر
توري يې ترې توږلي دي
دلته و غمی په کار
ده هم لګولی دی
هلته چې یې سا غوښته
ده هم چلولې ده
وګوره سرخي یې چې
دلته ډېره کړې ده
هوري یې د رګونو نبض
خپله درولی دی
دلته یې پستې غوندې
مازې مسولې ده
هلته یې په فن ادا
څومره غوړولې ده
دلته بیا فنکار خیال
څرنګه وېشلی دی
نویا به و وزګاره
یا ورځه په طبعه کې
خپل وخت یې چې دې سره
څومره لګولی دی




CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## غزل

له وسه مې شوه تېره په امسا در سره ووتم
بس نوردې لکه سيورى برالا درسره ووتم

پيخکه دپلو مې دي خوواره درنه ونيوه
پو تې غوندې په رغبنتو تر کلادرسره ووتم

ښه ډېر مې درته سر له ديوالونو سره وواهه
آ خردخپلواوښکوپه شنه ورا درسره ووتم

د زړه سېکه مې نه وه چې درويې لټولم
سياره جنازه وم ساه په ساه درسره ووتم

په مادي خاپي مه شه دا رڼې خانګې مرمره
تصويردمايوسى‌ومه په غلا درسره ووتم



ketabton.com - The Digital Library



## شپه

زه یې د ښو ځرېږي له خوبه ویښ کړم
ما ښګاه شپه د غره سترګې
هغه غبرګې تکې تورې
ترهندې،ترهندې ولیدلې
چې سم رډ،رډ یې کتل
لکه ته چې ماته ګورې
بیګاه شپه عجیبه شپه وه
تا به ویل له درانه خوبه
چا زردشت دی را ویښ کړی
پاس په خونه یې اوربل دی
زردشتیان ترېنه را تاو دي
اورنی سندرې وایي
بیګاه شپه عجیبه شپه وه
بیګاه لاس د سپوږمۍ مات و
له مداره ځنګېدلو
بیګاه درسته شپه له ستورو نه چا رنګ را نښتېځلو
بیګاه ږمنځې او نښترې دروېزګرو ته وې ورته
بیګاه درسته شپه له زانو مېره ورکه
بیګاه درسته شپه کوترو بام ونه موند
بیګاه درسته شپه پر ځانګو مرغان نه و
بیګاه اوښې مهار یووړ
او بیګاه هان تر سهاره،لکه سیند اس ششنېدلو
ته پوهېږې خلک وایې بیګاه لویه زلزله وه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## پاچاهي

غم دي یوه داسې پاچاهي ارزي چې
له لمره پرته بل امیر یې نه وي
او د سپوږمۍ له کم ازاري رڼا
پرته کوتوال څه چې وزیر یې نه وي

غم دي یوه داسې پاچاهي ارزي چې
پکې مریي پکې غلام نه وي
له ستورو پرته دي زمور د کلي
ترخونو ، هسک د هیچا بام نه وي

غم دي یوه داسې پاچاهي ارزي چې
سپیني کوترې پکې خوب وویني
دغه په ویښه هم ویده وګړي
د حسن غرقه لیونتوب وویني

غم دي یوه داسې پاچاهي ارزي چې
پکې رضا پکې هوا وي خپله
هره جنډه چې مو په قام ریېږي
تولو نبضونو کې یې سا وي خپله

غم دي یوه داسې پاچاهي ارزي چې
پکې تنګ لاسي سرې خان ونخوري
عادل سرې راتهٔ بلا نشي بیا
په توکو، توکو کې ایمان ونخوري

ketabton.com - The Digital Library



غـم دې يـوه داسـې پاچـاهي ارزي چـې
پکـې دروند سـتر د چـا مـات نـه شـي
د ښـېرا گـانو ، د كسـات پـه لـوږو
زخمـي بيـا سـتوري كلمـات نشـي

غـم دې يـوه داسـې پاچـاهي ارزي چـې
تـولې ملكـې شـي حيرانـې ورتـه
زمـا د ماشـوم لـه خنـدا جـوړې تـوكې
چكـې ، ترپكـې شـي حيرانـې ورتـه

غـم دې يـوه داسـې پاچـاهي ارزي چـې
زمـوږ پـه خوبونـو پـه نكلونـو كـې ده
لكـه يـوه وينـه او حلالـې پـې چـې
زمـوږ پـه رگونـو پـه لاسـونو كـې ده



ketabton.com - The Digital Library



## باران

پرون له يوې مخې
دغرونو وابنه
چا تر اوبو وايستل
پرون نرۍ نرۍ باران وريده
اوتوله لاره مې ترکلې پورې
په سر ملکې لتېدې کښينستی
نن مې دسپينو وريو
سپيني وری
لمر ته عجيبې توويدې څليدې
پرون زمونږ دجومات درستې ناوې
يو وارې بيا په شرنګې وجوړيدې
پرون زموږه دچوترې چڃې ته
مر غيو راوړه پناه
پرون مې غوا شوه لنګه
که خدای (ج) کو ل سړ به په شنو مړه وي
سږ به مې بيايه شړومبو خواه سړه وي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## غزل

سپوږمۍ چمبې ته لاس چې کړي، په بره، وايي ستوري
د ماتو شنو بنګړو په څېر، سندره، وايي ستوري

يېګا مې بلا ستوري و، په جام کې نښتېځلې
اخر به مې را توی شي، له نظره، وايي ستوري

کتار د اشرېو کې به دي، ستوري و پېيمه
راوړي مو ګودر، له سمندره وايي ستوري

داخو اسوېلو رانه، د اوښکو کفن وړی
دا خلک ورته هسې، د زړه سره، وايي ستوري

که ستوري دي خوښېږي يه!د کانو خريداره
راځه چې سره وژغورو له لمره وايي ستوري

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## څاواره

ستا په چپ غومبري خال دی
ما ته مخامخ دیوال دی
په دیوال کې یوه ځاله
لاس به نه ورورم وبال دی
ژر ور واچوه ککوړی
دغه روی سپی در تو کړه
د کور کار پسې بلا کړه
لوښي مات غنم یې تو کړه
بنجاره مې ده راوړې
له سیخکه تر زرتاره
اله،تور لونګ ورپورې
که خوښیږي دې څاواره
زه په سره تبی ولاړیم
د ملا صاحب له ډاره
توبه لرې لرې ګرځه
د موچنې له ګوزاره
زه را تېر شومه په لاره
ستاسو ژرنده کې وارنه و
له خندا یې ورته مړ کړم

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ستا ابا عجب سپېره و
په هر غوړ کې يې پراته
څه تاکې،تاکې وړه و
نيت مې کړی د سفر دی
((بتکی))نن سبا کې خمه
يو وار بيا راغلمه گوره
په تاغاړه خلاصومه
په حلاله مې ببنلې
درته ټول زاړه پوروته
غنم لوکې مې لار څاره
راته پورته کړه لاسونه

**څاواره**

چوتی ته ورته تاري څونډور گل دی، چې پیغلې یې په چوتۍ پورې تړي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## اوبه رنګه

د جنت رڼا ته جوړه
د جنت په اوبو ولې
تر خامچکې منې سپینه
تر هوا پستې ښنګلې
هر ایت یې په سرو شونډو
د باران شنه ترانه ده
پکې هر لمونځ رواکیږي
د محراب غونډې سینه ده
اوبه رنګه شان غرڅه ده
ګردې، ګردې رڼې سترګې
توتکیو غونډې ریږدي
که دي ګوتې کړې ورغبرګې
د ژوندي زیارت په څېر یې
په ګومبزو کې درزا ده
نه یې خال شته نه یې زخه
کلیمې ته ورته زما ده
کوم مین چې یې په زړه وي
خانګه، څانګه وغوړیږي
اوبه رنګه په دې نه ده
چې په چا به روا کیږي



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## رمه

چې زما د شونډو
د تصور وړه رمه
په ایلبند د شونډو پیاییې
هسې نه چې یې له تندې
د راده غاړې ته مړې کړې
جینی نوم به بیا در جوړ وي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## شپېلۍ

لــــه زړه چـــې و غـــېږوم کلـــه شـــپېلۍ
لمبه،لمبــــه شـــي څو،څـــو ځلـــه شـــپېلۍ

داســـې حزينـــه نـــوا پـــو کـــړم پکـــې
چـــې راتـــه و ژاړي پـــه خپلـــه شـــپېلۍ

ســـيند هـــم يـــوه ورکـــه لټـــوي لکـــه چـــې
را غـــــړوي لـــــه دې ځنګلـــــه شـــــپېلۍ

بېګـــاه ســـپوږمۍ پـــاس پـــه چينـــه ناســـته وه
چينـــــې ورو،ورو ور اورولـــــه شـــــپېلۍ

دا پاس باران هم ليونی مين دی
د بوډۍ تال کې ځنګوله شپېلۍ

ښـکارې چـې شـپون شـهيد او شـپول يـې ړنـګ دی
هوســـۍ لـــه غـــره را غړولـــه شـــپېلۍ

ketabton.com - The Digital Library



## والي

دغزني ولايت وتلي سانگه وهونکي (( نيزه باز))
فتح محمد خان شلگروال ته

### نظر وچ

د لمانځه په رکاتونو کې را يادې
زما د اس د گردنی تسمې شکېدلې
سور وريښمين دسمال مې باد له سانگې وړی
د سوری* چرمې دې تولې سپخېدلې
له زرينې کوبې* درستې غوټۍ ورکې
سپين وتی يې د اسانو سوو کړ لاندې
زما د اس د ځنگانه سترگې دې ماتې
د ښې مټ غوښنه مې ډېره وررېدلې
ته خبره يې که نه يې ړنده مه شې
مسواکې گوته مې بند په بند شوه ماته
خامکي دسمال مې رنگ په وينو راوړ
توله شپه مې هيڅ له خوږو خوب ونکړ
يوه شيبه که به مې سترگې وې لوېدلې
يو ناځاپه به په خوب کې را غورځار شوم
ابۍ ډک بوتل په لاس د تورو تېلو

ketabton.com - The Digital Library



د تیاره لالټین رڼا ته څواره ناسته
اوښکې شل ځایه له سترګو راروانې
فضل،فضل لویه خدایه فضل،فضل
نظر وچ،نظر یې وچ کړې
چې زنکی نظره وي
غبرګې سترګې یې کودي کړې
چې نیني په کې کوي
اباندر دی منلی
د کولبې غوبی خیرات ته
سبا ټول سپاره را بولي
له ((شلګره )) تر ((زرمته))



- سوری : تر زین لاندې توکر چې لمنې یې په چرمو ښایسته شوې وي.
- کوبه: پیالې ته ورته له سپینو زرو جوړېږي د آس د غاړې خوندی پکې څروي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دا نظم د کاکړیو غاړو په وزن لیکل شوی

## غازي زنی

لا مـــو مـــاتې راغلـــي نـــه وو
لا ســـور خـــولي ماشـــومان وو
زمـــا ځـــو ســـکني ورونـــه
هغـــه تـــول تـــر مـــا کشـــران وو

ښـــې لینـــدې مـــو ښـــې وســـلې وې
لیـــوني بـــه رانـــه تنـــګ شـــو
چـــې مرغـــی بـــه مـــو کـــړې نښـــه
د هنـــدارو بـــه بـــد کړنـــګ شـــو

چـــې پـــه کومـــه خـــوا بـــه پـــیښ شـــوو
پـــه یـــوو ځیـــز مـــو صـــرفه نـــه کـــړه
ختکـــي بـــه مـــو را پـــټ کـــړو
پـــه پـــالیز مـــو صـــرفه نـــه کـــړه

چـــې بـــه لـــوبې را پیـــدا شـــوې
د یـــاقوتو کـــان مـــو نـــه غوښـــت
پلرنـــی جایـــداد پـــه بیـــه
پـــه یـــوو غـــران مـــو نـــه غوښـــت

CamScanner

چې به وونو په وله
ځېرن لاس ، ځېرن سرونه
چې له لوېو به مو راوړو
ځيري،ځيري کميسونه

ابې خپر ځرخې په لاس کې
چې لاتې ته به يې لاس کړ
ما به بله توکه وکړه
زېږ سخوندر به مې را خلاص کړ

چې نرۍ ماټې مې راغلې
ابا شين پټکی راوغوښت
ما په سره خولۍ کوږ تاوکړ
ابې نذر ورې راوغوښت

نه چرسي وم نه بنګي وم
زما له خايه سترګې سرې وې
شين ځادر مې د خامکو
جينکې را پسې مړې وې

هغه شپې تولې په شمار وې
ځو سحره ځو ماښامه
چې سرو دوړو را خطا کړه
شا ليلا له هسکه بامه

ketabton.com - The Digital Library



دوړي نــــه وي یـــــو توپـــــان و
کـــاني ورغښـــتو بـــې دریغــــه
شـــتوري نــــه و هغـــه ســــتوري
لکـــه وتـــې وي لـــه تیغــــه

وریخـــو ووهـــل پـــه بـــلده
لـــه بـــازانو نــــه وزرونــــه
پـــه نښـــترو مـــو را بارشـــو
ســــره بوټي،بـــوټي هډونــــه

هغـــه مځکـــه شـــین اســـمان وو
وطـــن پـــاك وښـــویدلی
کلیوا ل خـواران حیـران وو
تربنـــــــه واك و ښـــــــویدلی

پـــه امـــام مځکـــه ســـور اور شـــوه
غـــاړه یــې خلاصـــه پـــه زلمـــو کـــړه
تـــوره یـــې وایســـته لـــه تیکـــي
گردنـــی یـــې پـــه اوږو کـــړه

غرونـــو واغوســـتې ســـرې زغـــرې
زمـــرې وواتـــو لـــه ښـــاره
شـــالیلا پـــه بـــام ښـــکاره شـــوه
پـــه تتـــر کلیمـــه داره

ketabton.com - The Digital Library



نغـــــاره پســــــې روان
ســـپين لښـــکر شـــو د زلمـــو
د ښـــامار لکـــــې يـــــې راوړه
شـــپاړس ځايـــــه پــــــه اوږو

پـــــه غـــازي زنـــې مشـــهور شـــوم
تکـــــه ســـــره زمـــــا ســـدرۍ وه
پـــــه اتـــڼ چـــې بــــه ورگـــډ شـــوم
تـــــر مـــــلا بـــــه مـــــې شـــــېبلي وه



CamScanner

## له جنګه وروسته

ددېوال له پرهرونو وینې څاڅي
تور بخونه دروازه تپه رنده ده
څځېدلې یې خرمن ، خره جامه ده
چا لیکلې پرې له پاسه کلیمه ده
خو زما یاده هغه ورځ
هغه ټکنده غرمه ده
چې مرغیو او پاختکو
جنازه د شهیدانو
د ویر ژلي واټ ونکړه
او هیڅ ژبه دوی له ویرې
د سبا خیرات ونکړه
زما یاده هغه ورځ ده
چې تعفن د دغې سیمې
پر بر بنډو اندامونو
وویواخې
مخ په قبله باندې ولاړ
پر جنازه باندې ولاړ



ketabton.com - The Digital Library



## غزل

زمـــوږ لمـــر هـــم عجيبـــه را خبـــږي
د وينـــو ژی دی پـــه غرمـــه را خبـــږي

زړه تـــه لمبـــه د حســـن نـــه يـــادوم
پـــه خـــوار تناکـــه پـــه پلمـــه راخبـــږي

ولـــي نگـــاه يـــي ســـمندر تـــه د زړه
لکـــه مســـت قـــو-چـــي پـــه څپـــه راخبـــږي

دومـــره مـــي شـــنه شـــه پـــه ليمـــو کـــي راځـــه
لکـــه دا ســـتوري چـــي پـــه شـــپه راخبـــږي

پـــه جـــوهر تبـــه د زيـــړي گـــډه ده
نـــن دي تصـــوير پـــه اينـــه را خبـــږي

هغـــه لـــه نـــازه ليـــوني ((ومانـــه))
کنـــډو تـــه هـــم شـــانه وانـــه راخبـــږي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## تسپې

یوکم سل کتوې باندې
یوکم سل ځایه لمبې دي
یوکم سل ستني ولاړې
یوکم سل زمونږ خیمې دي
یوکم سل اسان زین کړي
یوکم سل سرې تودې دي
یوکم سل گامه راواخله
یوکم سل موهد پرې دي
یوکم سل تو تکی راغلې
یوکم سل زانې پسې دي
یوکم سل ستوري زما دي
یوکم سل مرى ددې دي
یوکم سل ونې یې راوړې
یوکم سل خالي پکې دي
یوکم سل گوتې مې نه دي
یوکم سل واره دې پرې دي
یوکم سل سترگې مې خوښې
یوکم سل سره شپنې دي
یوکم سل واره مې یاد کړې
یوکم سل زما تسپې دي

ketabton.com - The Digital Library



## خپلې لور هيلې ته !

اى! لــــه وره لـــــه څنځيـــــره ســــــره و لاړې
دا مـــــنم چـــې زښــــته ډېربــــه دې يــــاديږم
پــه مــا شــوم نــازك زړگـــي بــه دې بـې واره
دژونــــدون دهــــر خـــواهش پـــه څېـــر وريــــږم

لا مـــــې شـــــې وتلـــــې نـــــه دي زورورې!
دو مـره ژرمـې زړه تـه نـه لـوېږي چـې هېر شم
لا مــــې ونــــه پيژنـــې څـــا در پـــه غـــاړه
پـــه ناشــــناخته څــو ســرووکې درنـــه تېــر شــم

تـه منـې زړه تـه مـې ډيـر كلپـان اخيسـتي
ســـرېي تـــولې در بچـــې ترمـــه څمـــه
دوطــــن دكلي، كـــور دبـــام هـــوا بـــه
دخـــوردې پــه څېــر لــه ځانــه ســره ورمــه

زمـــوږ تـــر مـــنځ بـــه ښايســـته غرونـــه ولاړوي
همغـــه چـــې پـــه نكلونـــو كـــې ژ ونـــدي دي
هـــاچې ســـتاد ماشـــوم ذهـــن پـــه پوښـــتنو
پـــه نالوســـتو كتـــابونو كـــې ژونـــدي دي

ketabton.com - The Digital Library



يو آرامــه ســمندر تــه ځمــه لــري
څـو چـې ډيـري يـې را لنـډې څپـې نـه وي
تـو تکـي، بـه کړمـه رووړې دزړه کـور تـه
کـه يـې جـوړې چـېري ځـالې خيمـې نـه وي

دربــاب پــه تــارونو پــوري تــو شــي
پــه شــنو ګــاټو کــې بــه وکــړم ســندري
آينــې مــې ډيــري خوښــې دي نــر ګســه
لــه هغوبــه ورتــه جــوړې کــړم وزري

دخپـل ذهـن بـه مـې مـاتې پنجـري کـړم
پـه سـکون بانـدې بـه خرڅـې زولنـې کـړم
دتـا يـادې بـه همهلتـه راسـره وي
ترينـه جـوړې بـه دلوبـو ترانـې کـړم



ketabton.com - The Digital Library



## زنی

سپینه سپوږمۍ د غره تر شا د سیند په غاړه ناسته
د لمر د زني په لاس ږدي څوک د واده نکریزي
هلته وړې،وړې څو ډلې دي د سپینو ستورو
لکه د ښېښو ښایستوکي واړه سپین ماشومان
د یوې پیغلې سندرمارې پېښې داسې کوي
((شپه ده د نکریزو جینکی تمبل وهینه
پیغلې له هر خوانه په واده راغلې دینه))

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## پیریان

په لاره په کوڅه او کنډواله کې و پیریان
په خونه په کنډو او په درشه کې و پیریان

پهو،زړگی مې رېږدي خرابه کې و پیریان
د تاک لاندې چیله وه په چوتره کې و پیریان

له هرې سپرغۍ تاو وو هډېره کې و پیریان
درنې د ژمي شپې وې په خپله کې و پیریان

په هره یوه کټوه په بوغښه کې و پیریان
بلا توره پیشو وه په ناوه کې و پیریان

په هرزاړه پوستین او کناوه کې و پیریان
تر خړ خرخي را تاو وو په تاخچه کې و پیریان

زما د ماشوم ژوند هر شېبه کې و پیریان
چپ،چپ له رڼا چپ هره تیاره کې و پیریان



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## کنګله ژبه

زما د نامه توري
چې زموږ د کلي امام
په تکبیرونو پسې
په شمار راوښیلو
زما په نامه واوښتو
خوزه په هغه نامه
یووار هم خپلې مورکی
ځان ته ونه بللم
ځکه د مور ژبې مې
په هغه شپه باندې هیڅ
ساه اخیستلای نشوای
زما د نامه توري بې
هیڅ اړولای نشوای
په هغه شپه مې مورکی
څوک پېژندلای نشوای
د خپل قامت سیوری بې
را لټولای نشوای
اوس راته خلک وایي
ته خپه کیږه مه چې
د سپینو، سپینو ستورو
شینکی کتار پوخ شي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



او شنه پخسوز هدونه
مخکه را وتوکوي
ستا د مورکی ژبه به
یو ښایستوکی ګل وي
جوړ به په هره پانه
ستا د نامه له تورو
د رنګینیو ول وي
ستا د مورکی ژبه به
((ومانه))اوس کنګل وي
ښایي چې تور اوربل یې
لا تر پخوا هم جړ وي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## مرغی

هـیخ پکـي تپـي کـو تـري نشـوي
لـومي درنغـاړه زیـاتي خیـا لـه

هغـه پـه چـاود کـي مرغی‌بـه مـړي شـي
کـه زلـز لـه شـوه سـخته د یـوا لـه

پـه چـا مـي پـور سـپینه خـولگی وه
دتـا یـادیږي نـری شـما لـه

پـه شـا مـي راوړو تـر تـا هـلـه ونـه
لکـه مـات لوښـي آخـر کلالـه

زه دي حلال بی بسم الله کړم
دمور شیدی دزني خاله

پـه شـهیدزړه د(ومـان) پـروت وای
دشـالیلا دلاس دسـما لـه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## سپینه خوله

که مچی د گل له تاندو اننگو نه
اخیستلای نه تودې،تودې مچکې
ما او تا به هم د شاتو په خوږو کې
ژبه نه وای په خوند داسې ترکولې
جنتي شې یوه د خوند خبره واوره
سر به نه را درنوې د زړګي سره
ما بېګاه دي یو په بل پسې څکلي
سپینه خوله تر شاتو واوبنته په نره




CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## لمبه

یــــــوڅراغ پــــــاس دی
بــــل خــــراغ لانــــدي
ګنـــــاه مـــــي کـــــړي
ددوی پـــــه وړانـــــدي

تنورتـــــه ناســـــته
یـــــوه جینـــــی ده
پټ،پـــــټ ورګـــــورم
ســـــپینه کـــــوکی ده

پاســـتی یـــي مـــات کـــړ
کـــــړه وړه شـــــوه
ماتـــه یـــي پـــام شـــو
لـــه شـــرمه ســـره شـــوه

لمبـــي تـــه بریښـــي
لکـــه غمـــي دي
څلـــوري خالـــه
یوپـــه تنـــدي دي

مـــورکی یـــي نشـــته
چـــي ســـپک یـــي کـــارکړي
نظـــر یـــي مـــات کـــړي
اوره تـــري جـــارکړي

CS CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## شینکی اسمان

په خپل وطن کې بې له جنګه ، ګذاره نه کېده
پرته له توري ، له غورځنګه ګذاره نه کېده

غاړې مو خلاصې کړې په دوی ، چا یوه شپه را نکړه
شینکي اسمان ته خو ملنګه ګذاره نه کېده

په هر سړي به ځان تاوان و له تا څه پرده ده
پرته له سواله په بل رنګه ګذاره نه کېده

یوه درانه غم په مخه کړي و دوري به مو هم
په تش نصوار پرته له بنګه ګذاره نه کېده

((ومان)) د بدو سړی نه و ، خو حیران یم په دې
چې شاعرانو سره یې ځنګه ګذاره نه کېده

CS CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ملنګه

دې ډېوې ته دعا وکړه ، دې مرغۍ ته دعا وکړه
زما د زړه په دریڅه کې ، مړې کوکې ته دعا وکړه

ملا وايي چې بېګاه یې ، بیا زموږ په ګناه نیسي
لاس دې پورته کړه وطنه‌دې سپوږمۍ ته دعا وکړه

یه‌اد شنې کوترې ورورهاکه تر ستورو ختې ګوره
د یو څاڅکي باران څنګ ته ، یوې ګلۍ ته دعا وکړه

چې دا غوټه یې دسمال کړ، د زیارت تر توغ ملنګه !
دا نجلۍ زما خوښېږي ، دې نجلۍ ته دعا وکړه

له کېږدۍ سره ده ناسته ، لکه پرښه د مرمرو
داد کوم بختور بخت دی،دې بدرۍ ته دعا وکړه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## ماښام

هرماښام يو ښايستوکی ماشوم
زما تيارې خونې ته
خپلو غومبرو پورې
خدايزده د چا د شونډو
الواني رنګ راوړي
د چا د غيرې عطر
مرۍ ، مرۍ دانه لونګ راوړي
د چا د پټې مينې
يو ساده رنګ راوړي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# توتکی

کلــه ، کلــه دي میــده وړي خبـــري
څــه پخـــې او څــومره ښــکلې انتــرې شــي

ستا پـه سـترګو کـې ولاړې رنـې اوښـکې
تـوتکی څـومره شـي ښـکلې چـې لمـدې شـي

چـې پـه نـاز، نـاز رپـوي نـازکې شـونډې
زړه مـې ریږدی چـې لـه غـږ سره بـه پرې شي

لـه ناکامـه مـی پـه غـره سـپارلې سترګې
پـه هـواره بـه پـه تـا پسـې ړنـدې شـي



CS CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



خپل کلي گورنه

## لېنده

زما وطنه
دخاورو کوره
دسپېرو دوړو
دواورو کوره
ومې یادېږې
زړه مې نرۍ شي
په خیال کې درشم
هوس زنکۍ شي
سلا بلایم
توش په غرموکې
ستا په پوټلنو
لاروکوڅوکې
سدرۍ مې څېرې
لمن ریټاړه
په جیب کې پاستې
لېنده ترغاړه



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## غرونه

چې د سپوږمۍ رڼا یې سترګې پرېشولې اخر
د هغې معصومې ښکلا یوه پرده په ما ونشوه

دخپل ماشوم په سر مې لوړم چې دا ډېره موده
تشې خندا ته هم زما د زړه هوا ونشوه

مګر داغرونه کړي راپورته پسې خپل لاسونه
له جنګه بعد مې شهیدانو ته دوعا ونشوه

## کست

زه به تا یواړې ښکل کړم
ته پښتو راسره وکړه
کست دې داسې له ما واخله
یو په سله څواب راکړه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## رباب

والـــه تـــه څڼـــي نښـــواى اړولاى
پـــه ربـــاب يـــي گـــوتي ايښـــي دي دکـــانو

دســـندرو تاويزونـــه مـــي پـــه غـــاړه
لكـــه غـــر پـــه تترســـوري ورم د زانـــو



## خال

ماڼو خال
دواړو يوه مدرسه لوستي
هغه گوربئ امامت کړي
زه امي ترې ووتم،

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## کوترې

نـه پـا چـا منـي پـه خپلـه
نـه يـې پـوخ نـه يـې لښـکري
يـو (ومـان) دی شـل يـې ميـږي
يـو يـې يـار سـل يـې کـوترې

## روژه ماتی

نور به زه در شم په ننواتې
وړې زړې دي تولې وي پاتې
د کال روژه يم خو لگی به را کړې
د ملا په اذان په روژه ماتې

## ژوند

ژوند چې ترينه ساه اخلي
رنگ چې پکې خيال دی
يا د شونډو چاودي دي
يا دزنې خال دی

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



له بابا سره تو که

په ښکاره ناري وهمه
دخو شحال بابا له کسته
درسته شپه مې دومره ښکل کړه
اوس يې غبرگ غو مبري نسته



## واوره

نن واوره گنه اوري
لکه خوک چې
تر ململ ورگوري چا ته

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## پاغونده

کټ مټ تا ته چې شوه ورته
تکه سره سوه اوخوله سوه
یوه د واورې پاغونده
را نه دانار په او بو سره سوه



## زما خونه

یو لیمڅی
څلور دیواله
نه رڼا لري
نه ځاله

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## سیپاره

زړه مـــې کیـــږي چـــې ودې ســـتایم
لکـــه مـــومن چـــې کلیمـــه ســـتایي
لکـــه ماشـــوم چـــې ســـبق کـــړي پیـــل
مورتـــــه اولـــــه، ســـــیپاره ســـــتایي

# # #

زمـــا لـــه قبـــره بـــه بانـــه تـــو کیږي
ملالـــو ســـتر گـــو تـــه مـــي د بـــر کتلـــي

# # #

دا اوښ چـــې هـــر ځـــای ویـــنم بـــدمې ایســـي
زمـــا د یـــار کـــډه خـــوده وړي ده



CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



د غـه خا ل او زخـه نـه دي دګلرخـو پـه رخسار
دا تــوره خولــه تولــه ،لــه لونګــه ښــويد لــي

# # #

دوی خووايې خو ته کله دومره دوی تـه ورتـه يې
ته خو زماد ملك هـوا يې زماخوی تـه ورتـه يې

# # #

کــا نــو ماشــو مــانو تــه دي خيــر وي
يــار خــو مــا لــه نــازه ليــو نــی بــو لــي

# # #

هر غرپ يې په مری کې درنو اوبو ښکاريږي
دي بوري مور يې خدازده په دي څه رودلي دي

# # #

دېــر خــــاطر د چتــو جينکيــــو ده (ومانـــــه)
کني شا عری ته په دي وخت کې څوك وزګاره دي

# # #

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



زښته بد گومانه زه په هغه دروازه ومه
زښته وېرېدمه چې دا ور به مې لاس ونيسي

# # #

که مرگ راسره پالي زما لحد ته راوړه
دخپل وطن له غرونو مرده شويه يوه ډبره

# # #

را تېرېدم له ديواله سره دې ساه ناسته وه
ته مې ونه ليدې تر تا پورې رڼا ناسته وه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



## ومان او خراغ

زه چې دومان شعرواورم کله،
کله له ځانه سره وایم دابه شعر
نه وي،ښایې له شعره کومه لوړه
وېناوي چې باید بل نوم ورته غوره
کړو،ځکه چې تر نورو شعرونوزیاته
اغېزه راباندې کوي د ومان شعرسړی
په یوناآشناجهان کې گرځوي، داسې
جهان چې په عین حال کې اشنا وي،
داسې جهان چې زموږ دهېرو شویو خوبونوهمیشني ملگری وي.
دعبدالرحمن ((نیازي)) لنډ نوم ومان هم دده دشعر غوندې خیال انگېزدی.
ومان زموږ دهیواد د غرونو دلمنوهغه ښکلی او ښفا بخښونکی بوټی دی چې
پیغلې یې له ننکی اوچارگل دمخه په پوزه ږدي چې دا ځانگړتیا په گلانو
کې نشته، دده شعرونه هم له داسې شډلوکلیوالي او غرنیو کلماتو او مفاهیمو
ډک دي چې موږ دماشومتوب نړۍ ته ترلاس نیولي بیایي، هغې زمانې
ته چې کرکې اوکینې مو نه پیژندلې، یوازې مینه موکوله اودښاپیریو په لټه مو
خوبونه لیدل. ومان صاحب دځینونورو غوندې خپل وخت دځان په مشهورولو
لگوي،نه غواړي دا قران وهلې زمانه دشوتلې پښکی وربر سر کړي
عبدالرحمن دعبدالغفارنیازي زوی په۱۳۴۸کال کې د غزني داندړو
ولسوالی،دشمشي په کلي کې وزیږیده په۱۳۷۴کال کې یې چې شاعري
شروع کړه په ومان نیازي مشهور شو، دی اوس دپو لیسو په اکاډمی کې
دحقوقو استاد دی چې ددنیا له کارونوفارغ شي ،شعرونه وایي،کتابونه لولي
اوانځورونه باسي،((دا خراغ درسره واخله)) یې دشعرونو لومړی ټولگه ده
چې موږ دده ملگرو په څه خواریوپرې چاپ کړه. ویې لولئ او خوندترې
واخلئ، ومان صاحب ته دلاز یاتو بریو دعا کوم.
الله دې یې تل په عزت لري.

علم گل ((سحر))

کابل_وزیراکبرخان مېنه

۱۳۸۴/۷/۱۹

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*